مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شهسوارسنګروال ۲۰۱۹/۰۵/۰۲

یوه موهمه پرتله:

# کورنۍ او بهرنۍ مافیاته چالاره پرانسته،

## حامد کرزي او که اشرف غني؟!

دایوه نیمه لسیزه کېږي،چې دافغانستان بېوځله اوبېوسه ولس نه یوازې دخونړۍ جګړې په لمبوکې سوځي،بلکې دفساد،اختلاس،رشوت اودرازرازبې عدالتېوقرباني هم دی...داځکه،چې د فساد بنسټیزې سرچینې د افغانستان د چارواکو په ولکه کې وې، ولې افغان چارواکي د دې لپاره چې ځان سپین کړي، د دې فساد پړه په بهرنیانو اچوي.
ولې دا پوښتنه به تل عمر په خپل ځای وي، چې ایا د چارواکومدیریت سم و و،چې فساد یې کابو نشو کړی؟
د نړۍ تجربو ښودلې ده، په تېره له دویمې نړیوالې جګړې وروسته چې یو شمېر اروپایي هېوادونه جګړې ځپلي ول، د بیا رغاونې لپاره که بهرنیانو ځومره مرسته وکړه، خو د چارواکو د ښه مدیریت له مخې ټولې مرستې په ځای ولګولې.
ولې افغان چارواکي، چې د ښه مدیریت جوګه نه ول، یو لامل یې دا و چې دوی په خپله په فساد کې ښکېل ول او د افغانستان د بیا رغاونې اراده او اداره یې نه درلوده.
حامد کرزي د خپل وخت په لنډ مهاله او مینځمهاله پېرونو کې پټه خوله وه، د بهرنیانو په سر کې د امریکایانو د فساد په تړاو څه نه ویل، ان دا چې د دوی د مرستو ستاینه یې کوله.
خو کله چې دی پوه شو چې د اساسي قانون له مخې د بل ځل لپاره ولسمشریزو ټولټاکنو کې برخه نشي اخستی نو بیا یې خپله ټوله پړه پر بهرنیانو ورچپه کړه.
د دې خبرې مانا دا نه ده چې بهرنیانو په فساد کې لاس نه درلود. ولې افغانانو ته په کار و، د خپل هېواد د ودانولو لپاره یې نه یوازې ځان په فساد کې ښکېل کړی وی، بلکې د بهرنیانو د فساد مخه ډب کړې وی او یا یې لږ تر لږه د نړۍ او د ملګرو ملتو ټولنې ته په ډاګه کړې وی چې د بهرنیانو مرستې افغانستان ته د دروازې له لارې را ننوځي، خو د کړکۍ لخوا بېرته بهر ته لېږدول کېږي.
له بده مرغه، په هر نړیوال کنفرانس کې چې د افغانستان د مرستو په تړاو خبرې اترې کېدې د مرستندویه ټولنو لویه نیوکه په افغانستان کې د فساد کړکېچ و. خو حامد کرزي به ژمنه کوله چې دی به په راتلونکې کې د فساد مخه نیسي ولې دا یې نه ویلې چې د فساد سرچینه له بهرنیانو سره ده.
بیا هم نړیوالو په تېره امریکایانو دا خبره په ډاګه کوله، چې ملیاردو ډالره موږ له افغانستان سره د هغه هېواد د بیا رغونې لپاره مرسته کړې او کوو یې ولې زموږ دا ټولې مرستې په ځای نه لګېږي؟
د جان اف سوپکو په مشرۍ سیګار، **Special inspector General Afghanistan Reconstruction** په ۱۹۸۰ کال له مافیا سره د مبارزې لپاره راودانګل.
سوپکو دغه اندېښنه په ډاګه کړه چې له افغانستان سره په ملیاردو ډالره د بیا رغاونې لپاره مرسته کېږي او دا هر څه د مافیا لخوا په اوبو لاهو کېږي.
سوپکو نه یوازې په افغان چارواکو نیوکه کوله بلکې د امریکا په دفاع وزارت (پنتاګون) او د امریکا په نړیوالې اداري **USAID** تور پورې کړ چې د افغانستان په بیا رغاونه کې د یوه منظم پلان له مخې پر مخ لاړ نشول.
ده د هغې پروژې په اړه چې په کندوز کې د اویا (۷۰)میلونو ډالرو په لګښت جوړېده وویل:
دغه پوځي بنسټ تر اوسه پورې د استفادې وړ و نه ګرځېد.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

نوموړي همدا رنګه د هغې پوځي پروژې له مخې هم پلو پورته کړ چې درې پوځي بنسټونه په ننګرهار کې جوړېدل او په میلونو ډالره د زورواکو جیبونو ته ولوېدل. سوپکو، د افغانستان لپاره د څو نورو پروژو یادونه هم وکړه چې په ۲۰۱۱ ز کال ۴۰۰ میلونو ډالرو په لګښت د ځمکې لاندې یوه ستره پروژه د بېلګې په توګه یادولی شو.
جان سوپکو دې ټکي ته هم ګوته ونیوله چې په افغانستان کې د څو بنسټیزو پروژو په نوم میلونونه ډالره افغان حکومت ته په واک کې ور کړ شوي دي، خو اوس دی او د ده ملګري په دې نه پوهېږي، چې دا پروژې چېرته جوړې شوې دي؟ له موږه ورکې دي او یا بنایي هېڅ نوي جوړې شوې!؟
د فیسکال ټایمز د بنسټ په څرګندونو د پرو پابلیکا د دوه سوه پروژو په نوې څېړنې او همدا ډول د سیګار له یادو بنسټونو سره سره په ګواښ دوی ټول دې پایلې ته رسېدلي دي: امریکا چې د اولس ملیاردو ډالرو په شاوخوا کې له افغانستان سره د مرستې په نوم د امریکې له خلکو کومه مالیه راټوله کړې ده او دا ټول لګښت په اوبو لاهو شوی دی، باید د دې لګښت په تړاو ځواب ووايي، چې د امریکې ولس پوه شي.
په همغه کلونو کې امریکې اته (۸) میلونه ډالره د مخدره موادو د کابو کولو لپاره کابل چارواکو ته ورکړل نه له بزګرانو سره د متبادل کښت لپاره مرسته وشوه او نه یې د مخنیوي لپاره نورې لارې چارې ولټول شوې.
دوه ملیارده ډالره د افغانستان د سړکونو د جوړولو او رغولو لپاره ولګول شول، ولې د څرنګوالي او څومره والي له مخې دغه سړکونو د پام وړ وړتیا نه درلوده او دولت ترې هم سمه څارنه و نکړه.
د سستم د اصلاح په نوم یې یو ملیارد ډالره ولګول، ولې فساد، رشوت، اختلاس له مینځه لاړ نشو او په ټوله کې مافیا کابو نشوه.
۹۳۶ میلونه ډالره د الوتکو لپاره یو وارو، ۴۸۶ میلونه ډالره بل وار، ۴۳ میلونه د ګاز، او پنتاګون هم ۴۷۰میلونه د افغانستان د پولیسو د روزنې لپاره ولګول، ولې د فساد مخه ډب نشوه.
د جان سوپکو د تفتیش او څېړنو له مخې چې د فساد او د مافیا په تړاو یې ترسره کړې دي څو بېلګې یې داسې دي:
۱-هغه لیک چې ده د امریکا وزیر ته د ۴۷۵ میلونو ډالرو په اړه استولی و، ورته کښلي ول چې د **CSTC – A** چارواکو د خریدارۍ ټول اسناد له ۲۰۰۶ کال نه تر ۲۰۱۱ کال پورې له مینځه وړي دي.
۲-د افغانستان د رغاونې په تړاو سیګار د هغه پوځي مرکز په تړاو چې د ۳۴ میلونو په ارزښت په هلمند کې جوړېده، د ناڅرګندو لاملونو له امله د استفادې وړ ندی.
۳-د ځانګړې څېړنې له مخې، جان سوپکو، د افغانستان د رغونې په اړه ویلي دي، چې دغه پوځي بنسټ جوړولو ته اړتیا نه وه ولې بیا د جوړولو چارې تر ۲۰۱۳کال پورې رواني وې. امریکایي چارواکي انګېرې، چې د خپلو سرتېرو له وتلو وروسته دغه تعمیر ړنګ کړي او که افغان پوځ ته یې وسپاري. ولې افغانستان یې د ساتلو ظرفیت نلري.
د دې خبرې مانا دا ده چې له یوې خوا متحده ایالاتو د افغانستان د بیا رغاونې لپاره مناسب پلان نه درلود او له بلې خوا یې د ځان لپاره ځان ته د فساد لاره جوړوله. نو ځکه خو ۳۴ میلونه ډالره په اوبو لاهو شول.
٤-د امریکې کانګرس، د افغانستان د پوځي روزنې او پوځي بنسټونو د رغاونې لپاره ۵۲ ملیارده ډالره منظور کړل. ولې دولس ۱۲ ملیارده ډالره یوازې د افغانستان د پوځي تأسیساتو لپاره ولګول شول. ولې اندېښنه دا وه چې ایا د افغانستان پوځي ځواک دا وړتیا لري چې دا پوځي بنسټ وساتي؟.
که چېرې چارواکو یو مسلکي او اکاډمیک پلان، له مخکې نه طرحه کړی وی، ښه به وو چې ۱۲ ملیارده ډالره یې په ډېر ګټور بنسټ لګولې وی.
سیګار له افغانستان سره د هغې مرستې په اړه چې دمتحده ایالاتو له خوا شوېده، د هغو شپاړسو (١٦)اروپایي هېوادونو له مرستې سره پرتله کړې ده، چېله دویمې نړیوالې جګړې وروسته، هغو هېوادونو دنوې اروپا د جوړولو ژمن ه کړې وه.
هغوی نوې اروپا په ډېرې خوا خوږۍ او ایمان دارۍورغوله، چې اوس له جنګ ځپلې اروپا سره د پرتلې وړنده.
خو افغان چارواکو دغه مرستې چور کړې او د فساد اومافیا په منګولو کې سا ورکړه خو افغان ځپلی ولسهمغسې له ستونزو او راز راز بدمرغیو سره لاس اوګریوان پاتې شو.
سیګار د خپلې هر اړخیزې څېړنې له مخې په ۲۰۱۳ زکال د اکتوبر په ۳۱ مې نېټې په ډاګه وویل، چې دامریکې م تحده ایالاتو، د (۲۰۰۲ز کال) نه را واخله تر۲۰۱۳ ز کال د جنوري ۳۰ نېټې پورې د یوسلوڅلور (۱۰۴)میلیاردو ډالرو په شاوخوا کې له افغانستان سرهمرسته وکړه.
دغه مرسته د اروپا د ۱۶ شپاړسو هېوادونو د بیارغونې له مرستې نه ډېره وه، چې له دویمې نړیوالېجګړې وروس ته له جګړه ځپلو هېوادونو سره وشوه.
له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۴۸ کال دامریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جورجمارشال د امر یکا د جمهور ریس «ترومن» د واک پهمهال وړاندیز وکړ، چې باید امریکا د اروپا د اقتصادیرغاونې او ثبات لپاره یوه ګڼ اړخیزه تګلاره او کړنلارهرا مینځته کړي.
په ۱۹۴۸ ز کال د ۱۶ شپاړس اروپایي هېوادونو(برېتانیا، اتریش، فرانسه، ایټالیا، ایرلینډ، ایسلینډ،بلجیم، پرتګال، ترکیه، ډنمارک، سویډن، سویس،لوکزامبورک، ناروې، هلینډ، او یونان) استازو بیا پهپاریس کې غونډه وکړه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اروپا د بیا رغونې لپاره یې (د ۱۹۴۸ ـــ ۱۹۵۲ کال) یوهاقتصادي طرحه را مینځته کړه.
دغه طرحه د مارشال په نوم یاده شوه، چې د امریکاپه دیپلوماتیک تاریخ کې د بهرنۍ سیاست په تړاو یوبریالی ګام ګڼلی شي.
د سیګار د څېړنې او څرګندونې له مخې، د امریکامتحده ایالاتو د ۱۶ هېوادونو بیا رغاونې لپاره دیارلس(۱۳) ملیار ده او درې (۳۰۰۰) سوه میلونه ډالره مرستهوکړه.
نو ځکه اوس سیګار او نورې نړیوالې مرستندویهټولنې دا خبره کوي چې له اروپایي هېوادونو سره دامریکې مرس تې له هغو مرستو سره برابرې دي، چې له افغانستان سره شوې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ